# ډاکټر اکرم ملکزي ته د جرمني دولت د ستر نښان د ورکولو خبرتیا




د راتلونکي جمعي په ورځ، د ۲۰۱۱ کال د اکتوبر په ۷ نېټه د جرمني د **Rotenburg** په ښار کې یو پرتمین محفل په نظر کې نیول شوی دی په دې محفل کې ډاکټر اکرم ملکزي ته د جرمني د جمهور رئیس د استازي له خوا د هغه بې ساري خدمت په وجه چې ډاکټر اکرم ملکزي د جرمني - پښتو ډکشنرۍ د لیکلو له لارې افغان او جرمن ولس ته کړی دی، د جرمني دولت ستر نښان ډالۍ کیږي.

دې محفل ته ګنشمېر ډاکټران، سیمه ایز سیاستوال او ځیني نور مخوریز کسان وربلل شوي دي د دې لپاره چې په تالار کې ټول ګډون کوونکي ځای شي نو په دې ویاړغونډه کې یوازې بلل شوي کسان برخه اخیستی شي.

هغه مینه وال چې بیا هم غواړي په دې پرتمینه غونډه کې ګډون وکړي، د لاندې لیکل شوي برېښنالیک سره دې اړیکې ونیسي څو د امکان په صورت کې ورته بلنه واستول شي:

*wir-nordhessen-rp@gmx.de*

د دې ستر نښان جرمني لیکدود په لاندې ډول دی

**das Verdienstkreuz am Bande des Verdienstordens der Bundesrebublik Deutschland**

بله اونۍ به د دې ویاړغونډې رپوټ د انځورونو سره تاسو ته وړاندې شي.